# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# عیسی مسیح دولس شاگردان غوره کوی



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Byron Unger; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: E. Frischbutter; Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.



عیسی مسیځ ډېر لوئ لوئ کارونه وکړل. هغۀ بیمارانو له شفا ورکړه، مصیبت ځپلو خلقو له يې آرام او تسلی وکړه. او د خدائ کلام يې ورزده کړو.




د خلقو یوه لویه ډله عیسی مسیح له د مدد او شفا د پاره
راغلل. عیسی په خپلو مریدانو کښې د خدائ پاک د کار په
مدد کولو کښې د دولسو سړو خوښولو
فیصله یې وکړه.
3


کله چې تاسو یوه ډېره مهمه فیصله کوئ نو
تاسو د خدائ پاک نه دعا غواړئ؟ عیسی
مسیح به د خدائ پاک نه دعا
غوښتله. هغهٔ په یو خاموش
ځائ کښې په یو غر باندې د
خدائ پاک نه دعا وغوښتله.
عیسی مسیح تر نمر پرېوتو
پورې د خدائ پاک نه
دعا غوښتله.
4


عیسی مسیح ټوله
شپه دعا وکړه.
5


په ورپسې سحر عیسی مسیح خپل مریدان را وغوښتل چا
چې به د هغهٔ خدمت کولو. نو په هغوئ کښې دولس کسان د
مریدانو او رسولانو په توګه مقرر کړل.
6


عیسی چې ورومبې غوره کړل نو په هغې کښې دوه ورونه
شمعون او پطرس او اندریاس وو. کله چې عیسی هغوئ
ته ووئیل چې ما پسې راځئ نو هغوئ خپل د میانو کاروبار
پرېښودو او په هغهٔ پسې روان شول.
7


د زبدی زامنو یعقوب او یوحنا
هم د میانو د جالونو جوړولو
کاروبار پرېښودلو او راغلل.
8

9

بیا عیسی فلپس، برتلمائی، متی، توما، شمعون، د یعقوب
وروِر او یهوداه اسکریوتی څوک په آخر کښې د عیسی
مسیح دوشمن جوړ شی هغه یې هم
د خپل شاګرد په طور خوښ کړو.



10

عیسی مسیح هغوئ له دا تعلیم ورکړو چې څوک
هم د هغهٔ په خبرو باندې عمل
کوی نو دا داسې ده چې هغه
خپل کور په یو مظبوت
ګټ باندې جوړوی.



11

خو د عیسی مسیح خبره نهٔ منل داسی دی لکه څوک چې
خپل کور په شګو کښې جوړوی. نو چې کله طوفان راشی
نو هغه کور به راوغورزیږی.



12

د عیسی مسیح څهٔ حکمونه آسان نهٔ وو، عسیی ووئیل، کهٔ
چرې یو کس تاسو په کڅ مخ باندې سپېړه درکړی نو تاسو
ښې مخ هم ور وړاندې کړئ. خپلو
دشمنانو سره مینه کوئ. خلقو ته د
عیسی مسیح په شان ژوند تېرولو
دپاره د خدائ پاک د مدد
ضرورت
دے.



13

عیسی مسیح خلقو ته دا تعلیم ورکړو
چې کله تاسو دعا کوئ نو یواځې
کوئ نه چې تاسو خلقو ته د ښودنې د
پاره دعا کوئ. لکه څنګه چې ځینی
مذهبی مشران کوی.



14

عیسی مسیح ووئیل چې څوک
په خدائ پاک باندې یقین
کوی، نو خدائ پاک هغوئ له
خوراک او جامې ورکوی.



لکه څنګه چې خدائ پاک
مرغانو له خوراک او ګلونو له
په جاړو کښې ښکلے رنګ ورکوی.
د هغۀ خلق د خپلو ټولو ضرورتونه
د پاره په خدائ پاک باندې يقين کوی.



15

په هغه ورځ عيسی خپلو
شاګردانو له د ډېرو خبرو
تعليم ورکړ. کله چې هغۀ
تعليم ورکول ختم کړلو نو
جذامی عيسی خواته شفا
غوښتلو له راغے.



16

عيسی مسيح هغه جُذامی ته ووئيل، زۀ تا له شفا درکوم پاک
شه. د شاګردانو په وړاندې هغه جذامی بلکل پاک شو.
هغه شفا وموندله. صرف د
خدائ پاک زوئ داسې
کولے شی. بيا شاګردان
په دې پوهه شول چې د
هغۀ مالک ډېر عظيم دے.



17

عيسی مسيح دولس شاګردان غوره کوی

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصئ

شته دے

متی ٤-٧ مرقوس ١ لوقا ٦

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ."
زبور 130:119

18



# ختم شو

39 60

19

دا قيصئ مونږ ته زمونږ د حيرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پيدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپيژنو.

خدائ پوهيږی چې مونږ ډير علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وايې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډيره مينه کوې نو ځکه هغۀ خپل
يک يو زوئ راوليږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولئ خپل ځان قربان کړې.او بيا عيسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کۀ تۀ په عيسی باندې ايمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د هميشه د پاره ژوندے اوسيږی.

کۀ تۀ په دې ايمان لرې چې دا رښتيا دی نو خدائ ته ووايه.خوږه عيسی زۀ
ايمان لرم چې هم تۀ خدائ يې. تا زما د خاطره پيدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے يې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د هميشه د پاره تاسره يم.
زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ يا لور جوړه شم. آمين
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، يوحنا٣:١٢

20